


**د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د نړیوالې ورځې په مناسبت د افغانستان د ملی خبرو اترو د خوځښت اعلامیه!**

نېټه: د ۱٤۰۱ لمریز کال د لېندۍ د میاشتې دوهمه / 23.11.2022

---

د نومبر ۲۵مه چې په دومینیکن جمهوریت کې د میرابیل خویندو د وژنې له کلیزې سره برابره ده، د ملګرو ملتونو له خوا ،ښځو ته د درناوي او پام لرنې په موخه **"د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو ورځ"** نومول شوې ده .

سږ کال دغه ورځ د **{د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو لپاره د یووالي او فعالیت}** تر سرلیک لاندې لمانځل کېږي.

د ۱۹۹۳ کال د دسمبر په ۲۰ مه نیټه د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د ۴۸/۱۰۴ نمبر پریکړې له لارې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په اړه اعلامیه تصویب کړه، چې په ټوله نړۍ کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو لپاره یې لاره هواره کړه.

خو د نړیوالې ټولنې له هڅو او په ورته وخت کې د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو د حکومتونو د پریکړه لیکونو او تصویبونو او ژمنو سره، سره متاسفانه لا هم د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالی په بېلابېلو کچو روانه ده او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پر وړاندې د مبارزو اړتیا لا اړین بریښي.

**په افغانستان کې:**

افغانستان هغه هېواد دی چې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی پکښې بنسټیز شوی، د ملګرو ملتونو په وینا دغه هېواد په نړۍ کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي تر ټولو لوړه کچه لري .

په رپوټ کې راغلي دي:

**" له هرو لسو افغانو ښځو څخه ۹ افغان ښځې د خپلو خپلوانو له خوا لږ تر لږه یو ډول نه د یو ډول تاوتریخوالی سره مخ دي، او د دې پدیدې د پای ته رسولو لپاره، "هرڅوک" باید پرېکنده عمل وکړي".**

وروسته له هغه چې طالبانو د افغانستان واک تر لاسه کړ :

په ښځو باندې نوي بندیزونه ولګول شول،د دی بندیزینو له امله ښځی او نجونی له حقونو او آزادیو څخه برخمن نه دي، په ځانګړې توګه د ښځو لپاره د کار او تګ راتګ حق او تر شپږم ټولګی لوړ د زده کړو حق ، دا په داسې حال کې ده چې د روغتیا په برخه کې د ډاکټرې په توګه، د ښوونې او روزنې په برخه کې د ښوونکې په توګه او ښایي په اداري چارو کې د کارمند او همکار په توګه د ښځو د خدمتونو اړتیا مخ په زیاتیدو ده. ډیری ښځې اړئ شوي تر څو په کور ناستی پاتی شي.اقتصادي ستونزې هم خپلې لوړی کچې ته رسېدلې او دغو ټولو لاملونو د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پر زیاتوالي په لویه کچه اغېزه کړی.

د افغانستان له دننه څخه نړیوال خبریالان راپور ورکوي چې :

**" په دې هېواد کې د ښځو او نجونو ژوند له وېرې سره تړلی دی او دا مسله د سولې او تلپاتې پراختیا د ترلاسه کولو ټولې هڅې له خنډ سره مخ کوي او د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی په جسمي او روحي ډول پر ښځو ناوړه پایلې لري".**

له بلې خوا، په داسې حال کې چې افغانستان د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو د میثاق غړی دی، د طالبي ډلو د ښځو پر بنسټیزو حقونو بې باوري د دې لامل شوې چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي عاملین له معافیت څخه برخمن شي او همدا خبره د تاوتریخوالي د دوام لامل ګرزیدلی دی.

د افغان ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو په برخه کې د افغان ښځو او نجونو پر وړاندې د جدي مسوولیت په احساس سره، **د افغانستان د ملي خبرو اترو خوځښت** په هېواد کې دننه او بهر د ښځو د دفاع له بنسټونو او د ښځو له حقونو څخه د دفاع له نړیوالو سازمانونو سره خپل یووالی او پیوستون اعلانوي او د هغوی تر څنګ ولاړ دی.

**د افغانستان د ملی خبرو اترو خوځښت** د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په ځانګړې توګه د هېواد په دننه د ښځو او نجونو سره خپل یووالی او پیوستون اعلانوي او دا کار د برياو لامل ګڼي.

**په درنښت.**

**د افغانستان د ملي خبرو اترو د**

**همغږۍ د انسجام شورا** .

**